# ژوب: د جماعت اسلامي په امیر سراج الحق باندې ځانمرګی برید او د تحریک طالبان پاکستان منافقت

ټي ټي پي د بلوچستان په ژوب سیمه کې د جماعت اسلامي پر مشر سراج الحق هغه مهال ځانمرګی برید وکړ، چې نوموړی د یوې غونډې مشري کوله. په ناکامه ځانمرګي برید کې محترم سراج الحق خوندي پاتې شوی، په داسې حال کې چې ټي ټي پي د موضوع د حساسیت په احساس سره سمدستي د دغه برید په اړه بې خبري ښودلې او د دروغو په بنیاد یې د غندنې بیان جاري کړی دی. د ځانمرګي برید تر شا د ټي ټي پي پټ مقصدونه په لاندې ډول دي

- **په اوسنۍ سیاسي شخړه کې سراج الحق د هغو څو جدي او مخلصو سیاسي شخصیتونو له جملې څخه دی چې هڅه کوي د سیاسي ګوندونو ترمنځ د تفاهم له لارې هېواد له دې حالت څخه وباسي.**
- **د پاکستان مخالف قوتونه د دې سیاسي ګډوډۍ په لمن وهلو بوخت دي، په داسې حال کې چې د ټي ټي پي په څېر د ضمیر خرڅونکی ډله د مالي ګټو لپاره د دغو دښمنو قوتونو آله کار جوړېږي.**
- **ټي ټي پي د بهرنیو بادارانو په امر د سراج الحق په څېر شخصیت له مینځه وړل د هیواد نور بې ثباته کول او د پخلاینې هڅې سبوتاژ کول دي.**
- **د ناکام ځانمرګي برید نه پس د دروغو د بیان مقصد د قبائیلي اولس د غصې نه ځان بچ کول او د خلکو خواخوږي ترلاسه کول دي.**

د پاکستان خلک په ځانګړې توګه قبایلي خلک د ټي ټي پي له اصلیت ښه خبر دي او د بهرنیو استخباراتي ادارو سره د اړیکو او د پاکستان ضد سیاستونو له امله یې د بشپړ له منځه وړلو لپاره د امنیتي ادارو ترڅنګ ولاړ دي.